مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: داکتر نوراحمد خالدي
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۱/۰۶/۱۰

د تاجکانو قومي او ژنیټیکي ریښې څېړنه

د تاجکانو د قومي ریښې، نېکونو او تاریخي پېژندنې په هکله لاتر اوسه ډېر نښیرونه (اثار) د کورنیو او بهرنیو څېړونکو، مؤرخینو او پوهانو لهٔ خوا لیکل شوي دي.
میرزا شکور زاده تاجک څېړونکی او د « تاجکان در مسیر تاریخ » اثر لیکوال لیکي: « د تر سره شویو څېړنو لهٔ مخې د منځنۍ آسیا په ډېرېو سیمو کې د ایران، افغانستان، تاجکستان او حتا کشمیر و کاشغر، پارسي ژبي وګړي خانونه تاجکان معرفي کوي.«
همدارنګه ځینې په دې آند دي چې تاجکان د ترکانو تر ظهور وړاندې په شپږمه میلادي پېړۍ کې په منځنۍ آسیا، افغانستان او ماوراالنهر کې استوګنه درلوده. (مریم میر احمدي، قوم تاجک و هنر تاجیکي در آسیای میانه، تاجکان درمسیر تاریخ، تهران ۱۳۷۳:۲۳۸مخ)
د همدې ګروهې پر بنسټ د منځنۍ آسیا د بومي طایفې یوه طایفه «دادیک» نومېده چې ۲۵۰۰ کاله پخوا په همدې خاوره کې استوګن وو، د وخت په تېرېدو سره د خپلو هم تبارو تېرونو لکه: سارتیانو، خوارزمینانو او سغدیانو ترڅنګ پاتې شول او ورو ورو یې د د «تاجک » نوم د « دادیک» په ترادف د تاج پرسرکوونکو او تاج لرونکو مفاهمو په اضافه کول سره د زردشتیانو لهٔ دورې وروسته مشهوره کړل، ځکه زردشتیانو تاج لرونکي خولې په سر کولې، هغوی ته یې « تاجي » یا « تاجک » ویل... (تاجیکان – آریایي ها وفلات ایران، اثر میرزاشکور زاده، تهران ۱۳۸۰)
ولادیمیر بار تولد روسی ختیځ پېژندونکی د «تاج » د کلمې غوره کول په پېل کې د عربي « تاجک » لهٔ ترکیب څخه بولي او ددې کار موده پر دې سیمې د عربو تر یرغل وروسته ګڼي. (ولا دیمیربار تولد، در میرزا شکور زاده، تهران ۱۳۸۰)
عبدالغازي تاجکیان؛ خوارزمیان «سارت » او د بخارا تاجکان «تاجک » نومولي دي او لهٔ ځان پرته مغولانو ته یې « تازیک» ویل. د منځنۍ آسیا اوسېدونکو په پېل کې دا نوم دمسلمانانو لهٔ پاره کاروو، کله چې ترکان را څرګند شول، نو نومورې کلمه یې د هغو تېرونو لهٔ پاره کارولې کوم چې ترکان نهٔ ؤ، په همدې اساس په ننې افغانستان کې هغو کسانو ته چې پښتانهٔ، هزاره او ترکان نهٔ دي «تاجک» ویل کیږي.
ځینې په دې عقیده دي چې « تاجک » د « تازیک » اوښتې بڼه ده چې په اصل کې پهلوي لفظ دی؛ د تاجک پخوانۍ بڼه « تازیک » هماغه د هېرودت د « دادیک » لهٔ لرې چې د اساطیري او د دوی لهٔ پخوانیو « پارا داتا – پرادادیک وېشدادی » سره بې اړیکې نهٔ دي. په دې اساس دادیکان د تاجکانو نېکونه دي dodik .دادیک چې داوستا په فقهي متونو کې do – tik هم ویل کیږي د « دادګر او عادل» په معنا راغلي دي، دا تعبیر د سپېڅلي رود (آمو) او د بدخشان په جغرافیا (آریانا ویجه) کې شوی دی. (پروفیسور حقنظر نظروف، ۱۳۸۲ ه.)
د پارسي دري ژبې په (دهخدا، برهان قاطع، معین او نفیسي) فرهنګونو کې تاجک د غیر عرب، غیر ترک او غیر مغول په معناوو راغلي دي.
په برهان قاطع فرهنګ کې تاجک یا تازیک ؛ د عربو څخه د پیدا شوي یا هم په خراسان کې د عربو د اولادې په معنا یاد شوي دي. (تجدید چاپ محمد معین سال ۱۳۳۰ م، تهران).
باید یاده کړو چې د « تاژیک » ترکي شوې کلمې بڼه « تاجک » ده. په پارسي دري کې عرب توکمه وګړو ته «تازي» ویل کیږي او عربي ژبه د تازي ژبې په نوم یادیږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د تاجک نوم کله کله دترکانو لخوا تاجکانو ته کله هم تازیانو او عربو ته کارول شوي ده. استاد میرزا تورسن زاده وایي: د «تاجک» نوم د پیدایښت لۀ وخته ټولو عجمو پارسي ژبو ته کارول شوي ده.
ډاکتر جاوید لیکلي: زمونږ د تاریخ او ادب پۀ پاڼو کي تاجک تبر پۀ بېلابېلو دورو او بېلابېلو سیمو کي پۀ بېلابېلو نومونو یاد شوي دي چې هر یو یې پۀ خپل ځای د تفسیر او توضیح وړ دي. دوی د تاژیک، تژیک، تات، ابناء الاحرار، بني احرار وابنای زاده، آزاده، زاده ګان، آزاد نژاد، دهقان، غلچه، دهوار، فارسیوان، سرت یا سارت او نورو پۀ نومونو یاد شوي دي.
پۀ افغانستان کي تاجکان پۀ لاندې ډلو وېشل کیږي:
ښهر میشته تاجیکان، لکه: کابل، غزني، بلخ او هرات.
هغه تاجیکان چې غرنیو سیمو کي استوګن دي، لکه:پروان، نجرو، پنجشیر او غوربند.
د بره کي تاجیکان، لکه: بره کي برک، لوګراو بتخاک، لۀ غلزایانو سره پۀ ګاونډیتوب کي.
فورمولي تاجیکان، لکه: پۀ ارګون کي د خروټي تبر تر منځ. او د سرده تاجیکان چې د غزني سویل ختیځ کي ژوند کوي.
ویل کیږي چې پۀ بدخشان کي تاجکان (غلچه ها) د غرۀ ترشاه پۀ لوړ کلي (لوی ښار، رستاق، چاه آب، یفتل، راغ او نورو) کي ژوند کوي. د ارګو او نور با نفوسه کلي چې د فیض آباد او کشم تر منځ واقع دي، ډېرۍ ترکاتباران دي.
د فیض آباد پۀ ختیځ کي چې د سیمې کچه لوړیږي ډېرۍ تاجیکان ژوند کوي. نو پۀ دې اساس د دوو لویو رود خانو، کندوز او کوکچې پۀ اوږدو کي چې نسبتاً حاصل لرونکي ځمکي دي ترکان او هزاره ګان استوګن دي . تاجیکان پۀ لوړو او غرنیو سیمو لکه: غرچه – کوه نشین کي ژوند کوي.
د « غلچه » لۀ کلمي څخه موخه غرني تاجیکان دي، هغه وګړي دي چې دپامیر پۀ دره کي استوګن دي او پۀ دواړو ژبو فارسي او پامیري خبرې کوي. پۀ دې وروستیو کي ځینې پۀ دې عقیده دي چې روشانیان، شغنانیان، یزغلامیان،دینیهاو او وخیان تاجکان نۀ دي.
استاد ډاکتر عنایت الله شهراني، تاجکان د قرقز او قره قلپاقو ترکانو لۀ نسلونو څخه ګڼلي دي. د قرقز، قره قلپاق، قزاقو ترکانو او ترکمنو ته د تاجکانو منسوبدل د ډي ان ای (D.N.A) څېړنو لۀ مخې ترسره شوي دي.
لویدیځو پوهانو دا څېړنه د فرانسوي پوه پۀ مشرۍ ترسره کړې، چې پایله یې ۲۰۰۹ کال د سپټمبر پۀ درېیمه د پنجشنبې پۀ ورځ د بي بي سي رادیو او وروسته د بي بي سي لۀ ویبپاڼو څخه په پښتو، فارسي او ازبکي ژبو د « پژوهش ژن شناسي : ترک و تاجیک یکی هستند » تر سرلیک لاندې خپره شوي ده.
دا څېړنه ښیي چې خپلمنځي قومي توپیرونه د تاجک او ترکتباره تبرونو تر قومي توپیرونو ډېر دي. څېړنه باوري ده چې هغه ترک او تاجک تبرونه چې د ورېښمو لۀ لارې پۀ اوږدو کي استوکن دي، د شجره شناسۍ او زیست شناسۍ لۀ مخې چنداني توپیر نۀ لري.
پۀ دې څېړنه کي چې پۀ منځنۍ آسیا کي لۀ ۲۴ تاجکو او ترکي تبرونو او قبیلو څخه د ۱۰۰۰ کسانو ډي ان ای (D.N.Aسمپولونه اخستل شوي دي، څرګندوي چې د دغو دواړو تبرونو ترمنځ د ډي ان ای څېړنو لۀ مخې ډېر قومي توپیرونه نشته، چې دا توپیرونه پۀ سلو کي یوه برخه جوړه وي. همدارنګه دا څېړنه ښیي چې پۀ منځنۍ آسیا کي دپارسي ژبو تاجکو، ازبکو، قرقیزو، قزاقو، ترکمنو، قره قلپاقو خپلمنځي قومي اختلافاتو پۀ پرتله د تاجکانو خپلمنځي قومي اختلافات پۀ مراتبو ډېر دي. څېړنه پۀ دې باوري ده چې ترک او تاجک تبرونه د پېړیو پۀ اوږدو کي سره مدغم شوي دي او لویې ډلې یې رامنځته کړي دي، تر څو پۀ دوو لویو ډلو تاجکان او ترکانو باندې ووېشل ﭻ شي.
په منځنۍ آسیا کي د تبرونو پیدایښت او ژنتیکي توپیرونه د یو ډله نړیوالو څېړونکو لخوا چې فرانسوي مشهور انسان پېژندونکي اولین هی یر یي مشري پۀ غاړه درلوده تر سره شوه، چې نچوړ یې د سپتامبر پۀ لومړۍ نېټه د BMC Geneticsانټرنیتي وېپاڼه کي خپره شوي ده.
پورتنیو پایلو ته پۀ کتو یو بل اړین ټکی چې ژبپوهان تل پرې ټینګار کوي هغه دادی: چې ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده چې پرته لۀ توکمیزو توپیرونو لۀ یوۀ نسل څخه بل نسل ته لېږدول کیږي.
لۀ بله پلوه نوي تاریخي لرغونپوهنیزي او ژنیتیکي څېړنې دا څرګندوي چې پۀ افغانستان کي تاجکان او پښتانه ډېر لږ توپیر سره لري او دواړه یوه توکمیزه سرچینه لري.
میر غلام محمد غبار پۀ دې هکله لیکلي: « د اوسني بدخشان او چترال د تاجکانو یوې لویې برخې چې لۀ ډېرې پخوا زمانې څخه یې لاسي یاد ګارونه پریښي دي، پۀ ټولیزه توګه د هېرودوت، بیلیو او نورو اقوال تائیدوي او ښکاري چې د پخوانیو پښتانۀ دادیکیانو تاریخي استوګن ځای د افغانستان ختیځ او شمال دی او لۀ هغۀ ځایه یې د وخت پۀ تېرېدو سره د افغانستان ډېریو داخلي او خارجي سرحداتو ته مهاجر شوي دي، چې تر ننه پۀ افغانستان، ماور النهر او فارس کي د تاجک، دهګان او دهوار پۀ نومونو یاد شوي دي»(افغانستان در مسیر تاریخ)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د « پښتانهٔ دادیکان» څخه د میر غلام محمد غبار موخه پهٔ دقیقه توګه نهٔ ده څرګنده شوې، همدا موضوع د بناغلي غبار همعصره لیکوال استاد کهزاد د هېرودوت لهٔ قوله داسي لیکلي ده :« هېرودوت؛ دادیکیان Dadicae (تاجک) د پکتي او پختون لهٔ ډلې څخه ګڼي او زیاتوي چې د آریانا دختیځو سیمو لهٔ خلکو پهٔ ځانګړي توګه له ګنداهاریانو سره یې اړیکي درلودي.(احمد علي کهزاد، آریانا، مخ ۸۵.(
کهزاد زیاتوي: دادیکان او تاجکان هغه وګړي دي چې د آریانا پهٔ « زند » ژبه کې د هغوی د استوګني ځای د جنوب سیمې وې او د « داکیو « Daqyou – پهٔ نوم یاد شوي دي، یعني هغه وګړي چې دېریو یې کرکېلي او کښت سره مینه درلوده.
د ځینو لیکوالو پهٔ باور د «د هقان» کلمه د «داکیو »لهٔ کلمې څخه رامنځته شوې ده. د دهقان کلمه پهٔ خراسان کې دعربو لخوا وروسته د اسلام مبارک دین لهٔ خپرېدو څخه وکارول شوه. په هماغه زمانه کې د دهګان کلمه د خراسانیانو تر منځ دود وه، چې د کلیو ملکانو او لوړو مقاماتو ته ویل کېدل، دا چې په عربي ژبه کې د « ګ » توری نشته، نو د ګ پر ځای یې ق توری کارولی دی.
د افغانستان د پښتنو او تاجکانو ژینیټیکي پرتلنه د دوی تر منځ ډېر ورته والی څرګندوي همدارنګه دا هم ښیي چې د افغانستان پښتانهٔ او تاجکان د ژنیټیکي ځانګړنو لهٔ مخې د هند د شمال او لویدیځ، د قفقاز د شمال، اروپا او د ننې ایران لهٔ وګړو سره نږدې والی لري. (پلوس وان جریده، اته ویشتم چاپ ۲۰۱۲ م مارچ(
پورته څرګندونې مورِ دې پایلې ته رسوي چې د قفقاز لهٔ شمال څخه اوسني افغانستان او لهٔ دې ځایه هندوستان ته د آریایانو د مهاجرت پخوانۍ تیوري ناسمه ده. دا څېړنې برعکس مورِ ته دا ثابتوي چې د افغانستان پښتانهٔ او تاجکان ډېرې د هند د شمال او د قفقاز لهٔ لویدځ او شمال لهٔ وګړو سره ورته والی لري.
د افغانستان دپښتنو او تاجکانو دا ډول ژینیټیکي پایلې چې دوی د هند د شمال او د قفقاز دشمال او لویځ لهٔ وګړو سره نږدې والی لري، نو دا ژینیټیکي څېړنې د منځني ختیځ، د قفقاز شمال، اروپا او ننې ایران پهٔ هکله برعکس د قضیې ثابتوي، هغه پهٔ دې معنا چې افغانستان کې پښتنو او تاجکانو ته د ژینیټیکي وراثت لېږ لهٔ هندوستان څخه را پېل شوی دی.
پورته څرګندونې پهٔ حقیقت کې د میر غلام محمد غبار او احمد علي کهزاد د هغو نظریو پخلی کوي، چې پهٔ افغانستان کې پښتانه او تاجکان سره نږدې والی لري.
په همدې اساس پروفیسور حقنظر نظروف د پښتانهٔ دادیکانو د اصطلاح پهٔ هکله پهٔ دې عقیده دی: پښتانهٔ او تاجکان دواړه لهٔ یوهٔ اصل او آریایي ریښې څخه سر چینه اخلي، هغه لیکي:« د تاجکستان مؤرخینو د تاجکانو پیدایښت ماور النهر او منځنۍ آسیا ته محدودوي... دا پهٔ داسي حال کې ده چې ٪۶۲ تاجکان پهٔ افغانستان کې ژوند کوي... د دوی وندې د تاجکانو د مادي او معنوي فرهنګ پهٔ پیدایښت کې پهٔ مراتبو د ماور النهر لهٔ تاجکانو څخه زیاته ده. (مقام تاجکان در تاریخ افغانستان، دوشنبه ، ۱۹۹۹).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ